نوشته و ترجمه: پوهنوال دوکتور عبدالخالق رشید ۰۲/۰۳/۲۰۱۵

مصاحبه نادر ابوالکلام آزاد در آستانه ایجاد کشوری بنام پاکستان

# مولانا محی الدین ابوالکلام آزاد

## مردی که از آینده پاکستان قبل از ایجادآن آگاه بود .




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

## دوستان گرانقدر !

**این نبشته واین مصاحبه نادر را بخاطر تمجید و استقبال گرم ازمصاحبه واحساس ملی دوست عزیزم داکترسپنتا که درین اواخر درباره منافقت وسیاست توسعه طلبی حاکمان نظامی پاکستان انجام داده است به نشرمیسپارم.**

### سخنی کوتاه درباره مولانا :

مولانا محی الدین مشهور به ابوالکلام آزاد درنوامبر 1888 در شهر مکه تولد یافته است ، پدر اش خیرالدین نام داشت از باشندگان اصیل هرات باستان بودند. ده ساله بود که با خانواده اش ازمکه به هندوستان مهاجرت نمود و درشهرکلکته مسکن گزین گردیدند.تحصیلات اش را درهندوستان دربخش علوم مروج وقت تکمیل نمودو درجوش جوانی از دیده وران مسلمان جوان وآزادی خواه هندوستان بشمار آمد. در ویکیپیدیای فارسی دوستان ایرانی درموردایشان طبق عادت دیرینه شان نوشته اند که هراتی ایرانی اصل بودند که نظربه تقاضای تاریخ و واقعیت مساله درست نمی نمایند، بهترخواهد بود آنرا به هراتی افغانی الاصل تصحیح نمایم و بگویم که پدران ایشان از هرات افغانستان به مکه ومدینه رفته اند. باری با خانم نجمه هیبت الله چشم چراغ خانواده مولاناآزاد ویکی از خانم های سرشناس درجامعه روشنگر هندوستان درباره خانواده شان صحبتی داشتم ،ایشان نیز گفتند که خانواده ما از هرات به مکه وازآنجا به کلکته رسیده اند ومی گفتند که مولانا می گفت که ما هراتی افغانی الاصل هستیم. وبه احتمال قوی خانواده ایشان با قبیله نیازی افغانها که شماری زیاد از آنها دربنگال هندوستان متوطن بودند نیزرابطه قومی ونسلی داشتند.

مولانا با زبانهای فارسی ، عربی ، اردو وهند ی بلدیت تام داشت ، زبان پشتو را( طوریکه شماری ازنویسندگان ما به اشتباه نوشته اند که گویا میدانست ) تنها خواند میتوانست وبدون چند جمله عام دیگر با آن بلدیت نداشت . وآثاری نیز درهمین زبانها از ایشان به میراث باقی مانده است. این ابرمرد تاریخ ومبارز آزادی هندوستان از بنیادگذاران ومدافع تعلیم عصری ومطبوعات معاصرهند نیز می باشد ، ایشان بود که در زمان خود مشهورترین اخبارالهلال و البلاغ را ازهند نشر کرد که به شکل متواتر از هندوستان به افغانستان ، ایران ، آسیای مرکزی و کاشغر می رسید وعلاقمندان زیاددرین کشورها داشتند . یکی ازمشهورترین اثرمولانا ترجمان القرآن می باشد که درشبه قاره وجهان اسلام ازشهرت بلندی برخورداراست وآنرا به یکی از علمای جید قندهاری که خودرا از قندهار تا شهر رانچی که مولانا درآنجازطرف انگلیسها نظربند بود نزد ش رسانید اهدا کرد ه است به گونه زیرین :

انتساب

« غالبآ این حادثه ای دسامبر 1918 است که من در رانچی نظربند بودم . ازنماز عشا فارغ شدم وازمسجد برآمد م ، فهمیدم که کسی از عقبم میاید. آهسته طرف اش نگاه کردم ، دیدم کسی که خود را درکمبل پیچانده بود نزدیکم ایستاد است:

- میخواهید برایم چیزی بگویید ؟
- بلی جناب ! من از نهایت دور آمده ام .
- از کجا ؟
- از آنطرف سرحد.
- اینجا کی رسیدید ؟
- امروز شام رسیدم ، من یک مرد نهایت غریب استم . ازقندهارپیاده حرکت کردم، به کویته رسیدم ، آنجا با چند سوداگرهم وطنم یکجا شده ، بحیث نوکر تا اگره باایشان همراه بودم واز اگره تا اینجا پیاده آمده رسیدم .
- آه ، این قدر زحمت را برای چه متقبل شدید ؟

بخاطر که از شما بعضی مقامات قرآن مجید را بیاموزم. من (الهلال ) و( البلاغ را حرف به حرف خوانده ام.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

این شخص چند روز ماند وبعد ناگهان دوباره برگشت. ایشان دروقت رفتن نخواست مرا ملاقات کند زیرا او فکرمی کرد من دراثنای رفتن برایش پول خرچ برگشت اش خواهم پرداخت، لیکن او نمی خواست که این بار را برشانه من بگذارد. ایشان یقیناً دربرگشت نیز مسافت زیادی را پیاده طی کرده باشد.
من نام اش را بخاطر ندارم .برای من این نیز روشن نیست که ایشان زنده خواهد بود یا خیر، لیکن اگرحافظه من کوتاهی نکرده باشد من این کتاب را بنام ایشان منسوب کردم.»
12 ستمبر سنه 1931
کلکته
ابوالکلام

مولانا اولین وزیر تعلیم وتربیه هندوستان آزاد بود ، هندیان ایشان را بنیانگذار تعلیم وتربیه جدید هندوستان می نامند. درتکمیل نصاب جدید هندوستان به شیوه واساس علوم عصری تلاش های پیهم بخرچ دادودرایجاد مکاتب وپوهنتون های عصری هندوستان سعی بلیغی بخرچ داده است .
مولانا ازجمله مبارزین نامدار هندوستان بودکه همه ی زندگی خودرا وقف آزادی هندوستان کرد، که درجمع سرشناس وبزرگتر ین رهبران آزادی هند بشمار آمد .ایشان از جمله مخالفان سرسخت تجزیه هند وستان بود که تا آخرعمر خود علیه آن شجاعانه به پا استاد و درزمینه بدون شک ازهم نظران وهم فکران مبارز نامدار پشتونها ویکی از رهبران مبارزه آزادی هندوستان خان عبدالغفارخان یا گاندی سرحد در مقابل انگلیسها گردید . هردوی ایشان مخالف بوجود آمدن پاکستان بودند. درموقع که هند وستان براساس توطیه و روحیه تجزیه طلبی محمد علی جناح ، هندوان تجزیه طلب وانگلیسها به دوکشورجداگانه ای هند و پاکستان تقسیم شد ، مهاجرت های طاقت فرسا ازهردوطرف سرازیرگردیدند ، حوادث تلخی روزگار درسراسرهندوستان بروزکرد، گاندی وشماری از دوستان اش به اشتباه تجزیه پی بردند، درهمین اثنای سخت ودشواربود که مولانا بازهم مردانه وار علیه کشمکش های داخلی هند ایستاد ودر بیانات پرشور ومملو از خلوص انقلابی اش ، نگهداری وحدت کشور شان را به مردم هندوستان گوشزد می کرد وآگاهي می داد که دربرابرعواقب بد تجزیه باید مقاومت کرد ونگذاریم مال وهستی وفرهنگ مردم مازطرف دهشت گردهای نفاق افگن و تجزیه طلب به باد هوا داده شود . مهاجرت هندوها به هند ومسلمانان به کشور نو بنیادپاکستان هنگامه وحشتزا کشتار را درهرطرف را به بارآورد ،بیانیه مهم وتاریخی مولانا برای مسلمانان هند درمسجدجامع دهلی از بیانیه های تاریخی ایشان بود که درآن به مسلمانان که فکرمی کردند پاکستان نوایجاد شده برای شان امن گاه مطمین خواهد بود به صراحت گفتندکه: این بناهای شاجهانی تقریباً یک هزارساله تانرا به کی میمانید، مگراین مساجد ومناره سربلند ازافتخارات شما نبودند، این هارا حواله کی ها می کنید. واین قصرها وتاج محل مگر پدران شما نه ساخته بودند ؟ شما که ازدیارپدران تان می روید این افتخارات راکه صاحب خواهند بود...
واین مولانا ابولکلام آزاد بود که با شور وشهامت این بیانیه آتشین اش مسلمانان را از رفتن به پاکستان مانع شد وخود نیزتا آخرزندگی نخواست هندوستان را ازدست بدهد وتاآخرین دم حیات اش درین دیار با فخرو سربلندی زندگی کردودرجمع رهبران محبوب وآزادیخوا هندوستان بشمار آمد. وی کشوری را بنام پاکستان نشناخت و حتی درجمع آثارمعروف اش مانند( هند آزادی گرفت) وغیره نیزازجناح تجزیه طلب بحیث بنیانگذارپاکستان یاد نکرد، واین خود بیانگراین بود که پاکستان را جناح وامثال آنها نه بلکه انگلیسها روی پلان وتوطیه منظم شان که بخاطر تجزیه هندوستان بزرگ وواحد روی دست گرفته بودند دروجود کسانی چون جناح و دیگران ظهورونزول دادند. که این اصل را میتوان از درک دقیق مولانا از ازاهداف وکارکردهای غیرانسانی استعماربشمار آورد.
مولانا ازدوستان نزدیک شاه ترقی خوا افغانستان شاه امان الله خان بود وی از جمع کسانی بود که زمانی امان الله بعداز سقوط حکومت اش وارد هندوستان گردید ومیخواست کشورش را ترک کند باایشان ملاقات نمود وبرایشان وانمود کردند که ایشان باید کشور راترک نکند زیراکه کمک های بی شایبه وانسان دوستانه مردم ومبارزین هندوستان باایشان صورت می گیرد. ایشان به این نکته پی برده بود ودر نوشته های اش نیزبیان داشته بود که سقوط دولت امانی نتیجه پیهم دسایس و توطیه های استعمار انگلیس بود که یکی پی دیگر دروجود عناصر بی مایه وجاهل منطقه روی صحنه تبارز می یافت.
همین مرد آگاه از حقایق موجود درآستانه تجزیه هندوستان مصاحبه ای را بایکی از مجلات بنام (چتان ) یعنی (بلندی) که بزبان اردو ازلاهور نشرمی شد انجام داده است. این مصاحبه را ژورنالستی بنام شورش کشمیری


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دراپریل سال 1946 انجام داده است. آزاد درلابلای این مصاحبه پیش بینی های را درباب آینده کشوری بنام پاکستان آنجام داده است که واقعآ تمام آنها درجریان ایجاد زندگی سه ده دهه این کشور به حقیقت مبدل گردیدکه دنباله آن تاکنون با همان وحشت و دهشت که مولانا درک کرده بود درووجود نظامیان دست به ماشه جریان دارد. ایشان گفته بود که با ایجاد این گونه کشور تنهایک راه حکومت کردن وجود خواهد داشت که آن عبارت از بوجود آمدن اداره حاکمان نظامی وجنرال های دیکتاتور این کشورخواهد بود وبس. این مصاحبه همان پیشبنی این مرد بزرگوار ومجاهد راستین آزادی وآبادی هندوستان است که تا کنون نیز این کشور ازشرشبکه جهمنی ونظامی (آی اس ای) امان نداشته بل باعث مشکلات پیهم برای مردم پاکستان ، هند ومنطقه نیز گردیده است.
بادرک حقیقت گویی این مرد نستوه جهان اسلام وشبه قاره هند ترجمه متن پشتوی این مصاحبه نادر که تا کنون ازانظار شماری زیاد از نویسندگان وعلاقه مندان تاریخ تجزیه وتوطیه ایجاد پاکستان بدورمانده است خدمت دوستان وخواننده گان عزیز تقدیم می نمایم . باید یاد آورشد که این مصاحبه برای بار اول توسط نویسنده وسیاستمدار هندوستان عارف محمدخان ضمن تحقیقات شان درین اواخر کشف و بزبان انگلیسی از طرف وی ترجمه وپخش گردیده است . من نیز به پاس دوستی با این مرد علم وسیاست هندوستان تلاش بخرچ داده ام که درترجمه آن کاستی ها به نظرنیاید. فکرمی کنم این مصاحبه نادر برای شماری زیاد از دانشمندان وآزادشناسان هند نیز حیرت آور خواهد بود زیرا مولانا تمام این حقایق را یکسال قبل ازتجزیه هندوستان بزرگ درباره آخرین سوغات زایشی ازبطن استعمار انگلیس ارایه داشته است . بیایید این پیشبینی جانانه را درلای این مصاحبه باهم بخوانیم تا ما نیز از مکروجادو این کشور واین (عجوزه ) زمان درهمجواری خود بی خبرنمانیم .

## مصاحبه ای مولانا :

**پوښتنه :** دهندو او مسلمان کرکیچ اوس یوه داسي پړاو ته رسیدلی چي نوریي دپخولاینې شونتیا له منځه تللی ده . تاسي فکرنه کوئ چي په داسي یوه حالت کي دپاکستان زيږون يو حتمی آر او اصل دی ؟
**ځواب :** که پاکستان د هندو مسلم دستونزې او کرکيچ حل وای، ما به هم له دغه اصل څخه ملاتړکړی وای. دیوه ځانګړي هندو تفکر لپاره کیدایي شي په زړه پوري وي . خو دپښتونخوا ، سند ، بلوچستان ، نیم پنجاب لپاره له یوي خوا اونیم بنګال لپاره له بلي خوا خبره بل ډول ده ، دوی فکرکوي چي دوی د ټول هند په کچه دآرام ژوند پلویان ځایونه دي چي له هرډول قومی او نژادی جوړښت څخه پریوه خوا دي .که موږ د مسلم لیګ ترمینولوژي کاروو په دغه حال کي به دغه نوی هند په عملي او نظري توګه یو هندو هیواد وي. چي دا به دیوې معقولي پریکړې په توګه رامنځ ته نه شي ، خود به دټولنیزو حقایقو منطقی نتیجه وي. تاسي له داسي یوي ټولني څخه څه انتظارلرلای شئ چي هلته په سلوکي نوي هندوان له خپلو ویاړونو او ارزښتونو سره ترتاریخ پخوا وختو راهیسي دلته اوسیږئ آیا ددوې لپاره دا شونیتا شته چي باید دلته په توپیرسره وده او ژوند وکړي ؟ هغه حقایق او فکتورونه چي دهغو له مخي اسلامي بنستونه په هندي ټولنه کي را منځ ته شوی ، هغه کرده اوس په رښتیني توګه د پارتشن د سیاست په ترڅ کي د قربانی منګولو ته ور لویږي . قومی توپیر او دهغه بدمرغي په پټه خوله په بشپړه توګه د اسلام دخوریدو او تبلیغ ټول امکانات له منځه وړي. قومی اوبیلتون پال سیاست هغه څه دي چي مذهب په بي کچي سره زخمونه وړدي . مسلمانان له قرآن څخه لرې شوي دي ، که دوی له قرآن او د پیغامبر له درسونو څخه زده کړه وکړي ، قومی او بیلتون پالي سیاست ته دمذهب په نامه لمن ونه وهي ، په دغه ترڅ کي به داسلام په وړاندي دځنډ اوځنډ سوال کله هم مطرح نه شي. دمغلو د سقوط پرمهال دهند دمسلمانانو شمیر تر ۲۲ ملیونه زیات و چي داوسني شمیر ۶۵ سلنه يي جوړوله . له همدغه مهاله را په دیخوا دغه شمیرمخ په زیاتیدو دی ، که چیري مسلمان سیاست والو له تشددی ژبي څخه کار نه وای اخیستای ، له قومی اوبیلتون پالو اړیکو یي ډډه کړي وای ، بلي ډلي يي بیاد بریتانوی اجنټانو په توګه دندي ته ټټر نه وای وهلی ، او هم یي د هند و مسلم دستونزي له تبلیغه ډډه کړي وای ، باور و چي په هند کي به دمسلمانانو شمیر لازیات او لوړ شوی وای . کومه سیاسی ستونزه او کړکیچ چي موږ د مذهب په نامه را ایجاد کړي ، دا به په خپل وار اسلام د سیاسی قدرت د وسیلي کچي ته راټیټ کړي ، دهغه دارزښتونه به دهغه داصولو خلاف یوازي دانسانی روح د تغیر په نامه سره وکارول شي. د انګریز د نفوذ پرمهال موږ اسلام په یوه ترلي سیستم کي راښکیل کړ اودهغه په وړاندي مو دنورو ټولنو لکه یهودانو، فارسیانواو هندوانواصول ور وتپل او موږخپله هم ځانونه دیوی میراثي ټولني په توګه بدل کړل .
هندی مسلمانانو اسلام او دهغه پیغام ګنګل کړ او ځانونه يي په بیلابیلو ډلو باندي وویشل . یوشمیر ډلي يي په روښانه توګه د ښکیلاک د واک او ځواک ایجاد دي. چي په پای کي دغه ډلي پر یوه حرکت او خوځون باندي بدلي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

شوي او په تولیزه توګه یي خپل باور داسلامی ارزښتو نو په وړاندي له لاسه ورکړ. دمسلمان دموجودیت نښه یوازي دومره دپاملرني وړ وه چي هر څه او تیربرم د دوی لپاره نا آشنا او نا څرګند شول .سمه ده چي دوی مسلمانان وو، خو دوی بیا خپل منطق غړاوه اوخپلي غوښتني یي تبلیغولي . دوی په حقیقت کي په ډیره آسانه توګه داسلامي ارزښتونو پرځای سیاسي څواک ته ورغاړه غړی شول. همداوه چي دوی بیا دسیاست مذهب ته د قرآن دمذهب په اندول اهمیت ورکړ. پاکستان یوسیاسي نظرټکی دی . له دغو فکتونو سره سره ویلای شو چي آیا دا به د هندی مسلمانانو لپاره د کرکیچونو یوحل وي اوکه به داد اسلام په نامه یوازي یوه غوښتنه وي . پوښتنه داده چي چیرې او کله اسلام د تمامیتونو دبیلتون مساله د کافراومسلمان پربنسټ رامنځ ته کړی ده . آیا د داسي یوه عمل پته په قران اویا دپیغمبر په حدیثونو کي په نښه کیدای شی ؟ داسلام دپوهانو له ډلي کوم یوه دخدای برلاسي پردغو بنستونو باندي ویشلی دی ؟ که موږ دغه ویش دیوه پرنسیپ په توګه ومنو ، موږ څومره کولای شو چي دا اصل له اسلام اوکایناتي سستم سره تطبیق اوپخولاکړو.

موږ څومره په غیراسلامی سیمو له هغي ډلي په هند کي دمسلمانانو دودي اوشته والی دغه اصل تشریح او تطبیق کولای شو ؟ آیا دوی په دی پوهیږي چي که اسلام دا اصل تایید او ومني ، روښانه ده چي په دغه حال کي به موږ داسلام پیروان دا اجازه ونه لروچي په غیراسلامی قلمرو کي ژوند وکړو ، روښانه ده چي په دغه حال کي به دپاکستان د ملاتړو نوي نسلونه ددي توان ونه لري چي اسلام ته ګام ورد ننه کړي ؟ د مذهب پراساسی د سیمواو قلمرونو ویش د مسلم لیګ پلان او طرحه ده ، دوی کولای شي چي داد دخپلي سیاسي اجندا په توګه وڅاري ، خو ددغه کار پته نه په قرآن کي شته او نه هم په اسلام کي ، دیوه ارادتمند مسلمان د زړه له کومي هیله او هدف څه دی ؟ داسلام د خپریدو رڼا ، او که پرمذهبی کرښو باندي د قلمرونو او سیمو ویش هغه هم دسیاسی تمایلاتو پربنسټ ؟ دپاکستان غوښتنه او رامنځ ته کیدنه له هرپلوه دمسلمانانو په ګټه کار نه دی . داچي پاکستان څومره اسلام ته ګټور کیدای شي ، داپه خپله دبحث وړ پوښتنه ده چي په پراخه توګه په خپل ذات کي دهغه د مشرتابه په اړه دویلو وړ ده .

دلویدیزفکری تمایل او فلسفي دغه کرکیچ ته نوره هم جدی بڼه ورکړه ، کومه تګلاره چي د مسلم لیګ مشرتوب ترلاس لاندي نیولی او یایي په خپله ترسره کوي ، دا به ددي لامل شي او دا لامل به پیاوړی کړي چي داکاربه په پاکستان اوهند کي دمسلمانانو لپاره یو نوی او نادر ایجاد او تخلیق وي . دایو خیال دی چي یوازي خدای پرې پوهیږي چي په راتلونکي کي به څه تري راوزي. کله چي دپاکستان په نامه داسی یوڅه رامنځ ته کیږي ، نو په دی کي شک نشته چي په دغه ترڅ کي به داسي یوکرکیچ زموږ په مخ کي وي چي هغه به مذهبي بڼه لري .

ترهغه ځایه چي ما ته ښکاري ، هغوی چي قدرت یی په لاس کي دی ، هغوی اسلام ته د زیان رسولو اصلی لامل دي . د دوی کړه وړه کیدای شی پاکستانی ځوانان په هراړخیزه توګه د نا باورو ( بی عقیدي ) غورځنګونو په لور ور وهځوي. نن سبا په هغوسیمو کي چي هلته مسلمانان په اقلیتونو کي دي ، دهغوی ځوانان دهغو سیمو ترځوانانوچي هلته مسلمانان په اکثریت کي دي ، ډیرمذهبی دي. تاسي په دغو سیمو کي دعلماوو زیاتیدونکي بهیر او وده له ورایه کتلای شئ . خو دپاکستان په جوړښت سره به دغه وړتیا له لاسه ورکوي .

**پوښتنه :** خو زیات علما له قاید اعظم ( محمد علی جناح ) سره دي.

**ځواب :** له اکبراعظم سره هم ډیرعلما وو ، دوی داکبرلپاره نوی مذهب اختراع کړ، دځانګړو او انفرادی کسانو په اړه بحث مه کوئ . زموږ تاریخ دهغو علماوو په شته والي ډک دی چي هغو اسلام ته په هروخت کي له شرم او داغه پرته کي بل څه نه دي ور ډالی کړي. خو د رښتیاوو او حقایقو پلویان اوپیروان بیا بیساري او ځانګړي دي. دمسلمانانو دتاریخ په ۱۳۰۰ کالو کي څومره عالمان چي دمنښت په وياړ پسولل شوي ، یو امام حنبل و ، یوازي ابن تیمیه . په هند کي یوازي له شاه ولی الله او دهغه له کورنی پرته نورعلما نه وو. د الف ثانی هڅونه له شکه پرته ده ، هغوی چي له ده یي دربارته شکایت وکړ او دده خبره یي ترزندان پوري ورسوله ، هغوی هم علما وو. خو اوس هغوی چیري دي ؟ آیا یو سړی هم شته چي هغوی ته به په درناوی سره وګوري ؟

**پوښتنه :** مولانا ! په دی کي څه غلطي ده که چیري پاکستان په یوه واقعیت باندي بدل شي ؟ پردی برسیره کیدای شي (اسلام ) د ټولنیز یووالی دخوندي ساتني ضما نت وکړي .

**ځواب :** تا سو داسلام نوم دیوه داسي لامل لپاره کاروئ چي هغه په اسلامي معیاربرابر نه دی . دمسلمانانو تاریخ د داسي وحشتونواو ظلمونو دلیرد څرګند شاهد دی. دجمل په جګړه کي ( هغه چي د امام علی او دپیغامبر دکونډي حضرت عایشي ترمنځ وه ) قرآنونه په تورو او نیزو کي پورته شول . آیا هغه سم و ؟ په کربلا کي دپیغامبر د کورنی دغړیو شهادت دهغو مسلمانانو له خوا ترسره شو چي هغو ی ځانونه دپیغامبر ملګري او یاران بلل . آیاداسم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولئ

کار و ؟ حجاج يو مسلمان جنرال و ، هغه چا چې دخپل وحشيانه يرغل په ترڅ کې په ملکه کې يو مقدس جومات دړې وړې کړ. دا سم کارو ؟ داسې الفاظ نشته چې په هغو سره با يد دا درواغجن حرکتونه توجيه او بيان شي .
که پاکستان د مسلمانانو لپاره سم انتخاب وای نو ما به يې هم ملاتړ کړی وای. خو زه په ډاګه په دغه هيله کې لوی خطرونه وينم. زه له خلکو داهيله نه لرم چې دوی بايد پرما پسې راشي ، خو داهم شونې نه ده چې زه بايد دخپل فکر دغږ پرخلاف شم. خلک په عمومی توګه ياد زور مني او ياهم دخپلو تجربو . مسلمانان به کله هم د پاکستان پرخلاف ترهغوپورې څه وانه وري ترڅويې هغه تجربه کړی نه وي. نن سبا دوی کولای شي د تور او سپين خبره وکړي ، خو دوی به دپاکستان له خبرې تير نه شي . دمخنيوي يوازنۍ لار په دغه ترڅ کې داده چې له يوې خوا حکومت او له بلې خوا پخپله جناح دغه کار ته اجازه ورنه کړي او په دغه اړه ديوه بل نوي وړانديز په لټه کې شي.
زه به اوس په کاري کميتي کې دخپلوملګرو له دريځه هم درته ووايم . دا سي ښکاري چې دهند ويش يو حقيفت دی. خو زه بايد ددغه کار شيطانی پايلوته دا ګوابن وکړم چې ويش به يوازې هندوستان زيانمن نه کړي ، بلکې پاکستان به هم په برابره توګه دزيان دغه پيټي ته اوږې ورکوي. ويش به يوازې د اوسيدونکو دمذهب پراساس وي نه د بل کوم طبعيی حد او سرحد لکه غره ، سيند ، بيابان . يوه کرښه به وايستل شي ، خو دابه ګرانه وي چې ووايو هغه به څومره پاتيدونی او دومداره وي. موږ بايد دا په ياد ولرو هغه څه چې په نفرت کې نغښتي وي ، هغه به ترهغه وخته ژوندی او فعال وي ترڅو چې نفرت له منځه نه وي تللی .خو همدغه نفرت به ديوه ځواک په توګه د هند او پاکستان پراړيکو باندې هم غوړيدلی او برلاسی وي. په دغه او داسی حالت کې به دا د هند او پاکستان لپاره شونی نه وي چې دغه دواړه هيوادونه به له يوه اوبل سره ملګري شي او يا به ديوه بل په څنګ کې په خواخوږۍ او لوريني سره واوسی ، بلکه برعکس دوی به ديوه او بل په وړاندې دردونکي اوځورونکي ځای و لري . په دغه ترڅ کې د تجزيی سياستونه هم په خپل وار د دواړو هيوادو ترمنځ د بنديزونو او خنډونو لامل او ديوه بل په وړاندې په خپل وار ستونزمن دي . دپاکستان لپاره داهم شونی نه ده چې يايد دهندوستان ټول مسلمانان هلته خوندي او ا ستوګن کړای شي ، ځکه داهغه دنده او پازه ده چې دپاکستان دقلمرو له توان لوړه ده. له بلې خوا به دا دهندوانو لپاره هم شونې نه وي چې دوی به په لويديزپاکستان کې تم شي . باور دی چې دوی به يا شړل کيږي او يابه هم خپله راووخي . چې اغيز به يې خامخا پرهندوستان باندې و ي ، دهندي مسلمانانو په وړاندې به هم دالاندې درې ټکي په پام کې وي :
۱ : دوی به دلوټ او وحشيانه يرغل دقربانيانو په توګه پاکستان ته مهاجرکيږي ، خوهلته به دڅومره مسلمانانو لپاره دپناه ورکولو شونتيا وي ؟
۲: دوی به د وژنو ځورونو او تيريو قرباني وي ، زيات شمير مسلمانان به دغه شپې ورځې ترهغوچې د ويش او پارتشن ترخې خاطرې يی له ياده وځي او هلته ددغه بهير دپښت په توګه ژوند کوي اويا ځان تريوه طبيعی حالت پورې رسوي ترهغو پورې به يې زغمي .
۳: ښايسته شمير مسلمانان به دغريبۍ ، سياسي نااراميو او سيمه ييزو ورانيو او ناچاريوله امله داسلام په پر ييښودواوانکار باندې ناچاريږي . .
نوميالي مسلمانان ، هغوی چې د مسلم ليګ ملاتړي دي ، هغوی به دپاکستان په لور ځي . شتمن مسلمانان به سوداګري او صنايع په خپل لاس کې نيسې او دپاکستان اقتصاد به د دوی په انحصار کې وي. خو تر ۳۰ مليونه زيات مسلمانان به بياهم په هند کې پاتې وي . پاکستان د دوی لپاره څه وعده او لاره چاره ترلاس لاندې نيولی شي ؟ حالت به له هغه وروسته چې له پاکستانه دهندوانو او سکانو دوتلو توپان را منځ ته کيږي نورهم د دوی لپاره خطرناک او دردونکی وي. پاکستان به خپله په دغه ترڅ کې له سختو او خطرناکو ستونزو سره مخامخ وي. لوی خطر به له نړيوالو ځواکونو هغوی چې غواړي دغه نوی جوړشوی هيواد په خپله الکه کې ولري له خوا وي ، د وخت په تيريدو سره به دغه کنترول په خپله يوسخت ټاپی او رنځ وي. خو هند به بيا دپاکستان برعکس له دغو باندنيو لاس وهونکو له خطرونو او دښمنيو په امن کې وي .
بل مهم ټکی چې د ښاغلي جناح له پامه پريوه خوا پاتې شوې ، هغه بنګال دی. دی په دی نه پوهيږي چې بنګال د رهبرې د اهانت په پوله ولاړدی ، هغوی به هم زر او يا وروسته دغه معامله رد کړي . د دويمې نړيوالې جګړې په ترڅ کې ښاغلي فضل الحق د جناح پرضد قدعلم وکړ او هغه يې له مسلم ليګ څخه وشاړه . ښاغلي اچ . اس سهروردي ته يې د درناوي په سترګه ونه کتل. موږ ولې په دغه بحث کې يوازې مسلم ليګ يادوو ، په کټ مټ ډول دکانګرس په تاريخ کې هم ورته بيلګې زموږ په مخ کې دي . دسوبهاش چندرا بوس پاريدنګ ټولو ته معلوم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دی ، ګاندي جی دسوبهاش په ریاست باندي نه و خوښ همداوه چي دهغه پرضد یي دمرګ تریولي پوری په راجکوټ کي د روژې لمنه ونیوه . سوبهاش د ګاندي جي پرضد را وپارید اوځان یي له کانګرس سره له همکاری پریوه خوا کړ. دبنګال چاپیریال په واقعیت کي داسي یو چا پیریال دی چي خلک یي له خارجه د رهبری په وړاندي له خپلو حقونو اوګټو څخه د دفاع په لامل دپاریدني په ډګرکي درېږي .
دختیزپاکستان باور په یي ترهغو پوري روزي نه شي ، ترڅو چي جناح او لیاقت علي ژوندي وي. خو له دوی وروسته ددی شونتیا شته چي یوشمیر وړې وړې پیښي به دقهراو نا رضایتی په نامه را ایجاد شي. زه دا احساسوم چي ختیزپاکستان به د لویدیزپاکستان تر اداره لاندي دیوی اوږدي مودي لپاره پاتي نه شي. ځکه چي ددغو دواړو سیمو ترمنځ هیڅ ډول داسي نورعام څه پرته له دي چي ځانو ته یوازې مسلمان وواېي نشته . د مسلمانو ویلو اصل په ګرده نړی کي ددي لامل نه شي کیدای چي دهغه پربنسټ باید سیاسی یووالی رامنځ ته او سمبال شي . عربي نړی زموږ په مخ کي یوه ځرګنده بیلګه ده . چي دوی په مذهب ، عام تهذیب او کلتورکي ځانونه یوشان بولي او په یوه ژبه خبري کوي.ان داچي دوی تمامیتی یووالی هم مني ، خو د دوی ترمنځ هیڅ ډول سیاسي یووالی نه ترسترګو کیږي. د دوی دولتی سستمونه له یوه بل سره توپیر لري ، زیاتره وختونه له یوه بل سره په متقابلو سیالیو او دښمنیو اخته دي. له بلي خوا دختیزپاکستان ژبه ، کلتور، او د ژوند ډول په تولیزه توګه له لویدیز پاکستان سره توپیرلري . په اوسنی شیبه کي به دپاکستان د ایجاد تودوخه یوڅه آرامه وي ، ځکه مخالفتونه او تضادونه را برسیره کیږي، د دوی لپاره دباور وړ تګلاری اړتیا شته ده . ځکه چي دلته ترهرڅه دمخه اوس دنړیوالو طاقتونو دګټو پوښتنه هم په پا م کي ده ، خو په نتیجه کي به دغه دواړه وزرونه له یوه بله سره بیلیږي.
کله چي دختیزپاکستان د بیلیدو بهیرپای ته رسیږي ، له هغه وروسته به لویدیزپاکستان دسیمه ییزو شخړواو تضادونو د جګړې پرډګر باندي اوړي. سیمه ییز واړه هویتونو لکه پنجا ب ، سند ، سرحد او بلوچستان به دخارجي مداخلو لپاره خپلي دروازې پرانیزي . دابه له هغه وخته ډیره مخکي خبره نه وي چي نړیوال قوتونه به دپاکستانی سیاسی مشرتابه یوشمیر عناصر ددی لپاره وکاروي څو دغه هیواد هم لکه دعربی او بالکانو د دولتونو په شان دماتي په لور ورمخه کړي . په دغه حال کي به بیا موږ له ځانه دا پوښتنو چي موږ څه وګټل او څه مو له لاسه ورکړل .
اصلی خبره د اقتصادی ودي او پرمختګ خبره ده ، دمذهب خبره په دقیقه توګه دلته ګردسره مطرح نه ده . مسلمان پانګوال په دغه برخه کي په خپله ځواکمني او سیاله روحیه باندي باور نه لري ، ځکه نو دوی له رسمي برلاسی او دریځ څخه کاراخلی ، په دي چي دوی له نوې آزادی او خپلواکی څخه داریږي. دوی د دوو ملتي تیوری پلویان اوملاتړي دي ځکه نو دوی دمسلمان دولت غوښتنه کوي څو دهغه ترسیوري لاندي له یوې خوا اقتصاد په خپل لاس کي ولري او له بلي خوا له سیالو رقابت کونکوڅخه په امن کي پاتي شي. دابه په زړه پوری وي چي ورته سترګي په لاره شو چي دوی دغه نیرنګ تر څومره پوری ژوندی ساتلي شي .
زما په نظر پاکستان به له خپل هماغه ایجاد سره سم له یوشمیر سختو اوجدی ستونزو مخامخ وي لکه :
۱: ناخبره او بی تجربي سیاسی مشري به ترهرڅه دمخه دلته پرځان باندي دپوځي دیکتاتوری چتر راغوړوي لکه چي داکار په زیاترو اسلامي هیوادو کي ترسره شوی هم دي .
۲: تر درنو خارجي پوړونه لاندي به وي .
۳: له ګاونډیو سره به له دښمنی ډک اړیکي لري اوپه احتمالي توګه به یوځي کړکیچ هم ور سره مل وي.
۴: کورنی نا رامی او سیمه ییز جنګونه او کړکیچونه .
۵: دعامه شتمنیو لوټ، په تیره بیا د پاکستان دنوي شتمن صناعي پاټکي له خوا .
۶: دپاټکیز یا طبقه یی جګړې ډار چي دنویو شمتنو دزبیښ په پایله کي به رامنځ ته کیدونکي وي.
۷: دمذهب په وړاندي د ځوانانو د نارضایتی او دښمنی راپاریدنګ اوپای کي دهم هغي تیوری له منځه تلل چي دهغي پربنسټ پاکستان را منځ ته شوي دی .
۸: د هغو باندنیو نړیوالو ځواکونو توطیي چي دپاکستان دکنترول غواړي . دابه داسي حالت وي چي دپاکستان ثبات به دټولو اسلامي هیوادو لپاره دپوښتني وړ، او په داسي یوه حالت کي به وي چي دپاملرني وړمرستي به نه شي ورسره کیدای ، دنورو سرچینو مرستي به هم د دوو بیلابیلو ایدیالوژیکو او سیمه ییزو جوړجاړیو ترسیوری لاندي وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**پوښتنه :** خو پوښتنه داده چې مسلمانان څومره کولای شي چې خپل کمونيتی هويت په هراړخيزډول دځان کړي ، او ياداچې څنګه کولای شي ديوه مسلمان دولت په توګه دخپلو اتباعو باور او منښت له ځان سره ولري.

**ځواب :** بی مانا اوهوايی خبرې نه بنسټيز واقعيتونه دروغ ښودلای شي ، اونه هم کړو پوښتنو ته بی مانا ځوابونه ورکولای شي . له کومونيتی هويت څخه مو هدف څه دی ؟ که دغه کمونيتی هويت دبريتانوي غلامي په ټوله دوره کې خوندی پاتې شوی وي ، نو هغه بيا په څه ډول د خپلواک هندوستان په جوړښت کې ترخطرلاندې واقع کيدای شی ، هلته چې مسلمانان په هغه کې مساوي برخه وال بلل شوي ؟ کوم ټکی او اړتيا ده چې دهغه له مخې بايد ديوه مسلمان دولت رامنځ ته کيدل زموږلپاره دپاملرنې وړشی . مهمه خبره په دغه ترڅ کې دعقيدی او باور آزادی ده ، څوک کولای شي چې ددغې آزادی په سرخولی کيږدي. آيا دا آزادي به ددې لامل شي چې د (۹۰) مليونو په شميرمسلمانان وکولای شي چې په داسې يوه بې مرستې دولت کې سره راغونډ شي او يابه وکولای شی چې خپل مذهبی مراسم په سمه توګه ترسره کړای شي ؟ کله چې بريتانيا هغه چې ځان نړيوال ځواک بولي ونه شوای کولای دغه آزادي تامين کړي ، دا به کوم جادو او يا ځواک وي چې دهغه له مخې به يو هندو به هم له دغې مذهبی آزادی څخه انکاروکړي ؟ داډول سوالونه په زياته کچه دهغوی له خوا راپورته کيږي چې هغوی دلويديز دکلتور تر اغيزلاندې دي ، له خپل ميراثه د انکار پرپوله درېدلي او اوس ددغې سياسي فضا تر چترلاندې دغه لړې او غبارونه په بې پروايي سره راتورولی دي. اسلامی تاريخ د هندوستان دتاريخ مهمه برخه جوړوي ، تاسو فکرکوئ چې مسلمان پاچهان د اسلام دخدمت لامل وو ؟ دوی له اسلام سره تش په نامه رابطه درلوده ، دوی داسلام مبليغين نه وو. دهندوستان د مسلمانانو زياته پاملرنه دصوفيانو پرلور وه ، چې ددغو صوفيانو يو زيات شمير بيا دهمدغو پاچهانوله خوا په وحشيانه توګه وټکول شول .

زياترو واکمنانو بيا د علماو يوه لويه ډله را منځ ته اوپرځان راټوله کړه ، داسې چې هغوی بيا د اسلام د فلسفي او ارزښتو دخوړولو په لاره په خپله يو مشکل او ستونزه وو. اسلام په بنسټيزه توګه دخپل دور په لومړی پيړی کې له يوه عالی شانه پيغام سره مل و چې د حجاز دشاوخوا زيات شمير ولسونو زړونه او فکرونه پرې راپريوتل . خو کوم اسلام چې هندوستان ته راغي ، دغه اسلام بيا له هغه اسلامه توپير درلود. ددغه اسلام ليږدونکی غيرعرب ول ، ځکه د هغه حقيقي روح ترې ورکه شوه . داسلامي دورنښې نښاني تراوسه پورې د هند له کلتور، موسيقي ،هنر، معماری او ژبو سره په ټراوکې پاتې شوې دي. د ډهلي او لکنهو لوی کلتوري مرکزونه دڅه استازيتوب کوي ؟ د يادو شويو اسلامي ارزښتونو اصلی روح تر پښو لاندې اوتيري پرې شوي دی . که چيرې مسلمانان تراوسه هم په خپلواک هندوستان کې د عقيدې او باور له پلوه دغلامئ احساس کوي ،په دغه حال کې زه يوازې د دوی ايمان او زړونو ته دعا کوم . که چيرې يو سړي له ژونده ستړی کيږي ، هغه کولای شي ځان تجديد نظرکړی ، خو که يوسړی بيا دعصبيت لاره نيسې ، په دغه حال کې بيا دا امکان نه لري چې هغه د زړور وبلل شي . ځکه نو باوردی چې په داسې دريځ سره به مسلمانان ديوې کومونتي په توګه ډيرکمزوري وي ، دوی له خدايه نه ډاريږي او ټول ډار يې له خلکودی . دغه ټکی داخبره په ډاګه کوي چې ولی دوي په خپل موجوديت کې ځان دخپل خيالي ايجاد له خطرسره مل کوي ،

کله چې بريتانيا بريالۍ او واک يې ترلاسه کړ ، حکومت يې په ټول توان سره د مسلمانانوپرخلاف خپلوهڅو ته دوام ورکړ، خو مسلمانانو بياهم خپل شته والي او ژوند ته دوام ورکړ. برعکس د دوی پرمختګ له نورمالی کچې لوړ و. دمسلمانان کلتوری ارزښتونو بيا خپله وړتيا اوجذابيت درلود. هندوستان په خپل چم ګاونډ کې دريو خواو ته پياوړی مسلمان ګاونډي لري . ددغه هيواد اکثريت ولې دې ته ليوال شي چې دوی بايد مسلمانان له دغه هيواده جاروکړې ؟ څنګه به دوی وکولای شي چې دخپلوځاني ګټو د ودې اوپراختيا په برخه کې ګا م اوچت کړي ؟ آيا دابه ډيره آسانه وي چې بايد (۹۰) مليونه انسانان دي ختم کړی ؟ حقيقت دادی چې اسلامی کلتور دومره لويی ښيګړې او وړتياوې لري ، چې زه ورته اندېښمن نه يم ، او دابه هغه لويه برياوي چې په آزاد هندوستان کې به هم خپل بشپړاومهم ځای اووړتيا لری.

نړی ، دواړوټکو، پياوړې سولې او دژوند فلسفې ته اړتيالري ، که هندوان وکولای شی له مارکسه وروسته دلويديز دپوهې او فلسفي په پيل اوتقليد لاس پورې کړې ، دوی به بياهم ونه شی کولای چې پراسلام باندې کرښه راوکاږي اويابه دهغه له پرنسيپونو ګټه وانخلي . په حقيقت کې دوی په دې ښه پوهيږي او دامنې چې داسلام مانا دوګم ، ميراثی کمونيتی او د اداري يومطلق سستم نه دی .

اسلام يوکايناتی غږ دی چې دسولې او انساني عدالت اوبرابرې رامنځ ته کيدل غواړي. دوی پوهيږي چې اسلام دهغه استازي اعلاميه ده ، چا چې ويې ويل چې هدف يې دخدای عبادت او بندګي ده نه د ځان ، اسلام يانی له

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ټولو ټولنیزو ، سیاسي او اقتصادی توپیرونو څخه خپلواکي ، او په دریو خدایی بنسټیزو اصولو لکه خدایی ارشادات، ربښتیاني عمل او پوهې باندې دټولنې بیا خوندي کول دي.
په حقیقت کې دامورړ مسلمانان او زمورړ افراطی عادات او کړه وړه دي چې دغیرمسلمانانوپرذهنوکې یې داسلام په وړاندې کرکه اوناخوښي را منځ ته کړې ده. که مورړ خپلې ځان غوښتنې د اسلام دسپڅلتیا قلمروته ورننباسو، په دغه حالت کې به زیات ربښتیا خوښونکي داسلام په غیره کې د آرامۍ او هوسایۍ احساس وکړي. پاکستان به د اسلام لپاره هیڅ هم ونه کړي ، ځکه چې دا د مسلم لیګ یوپروژه شوی سیاسي غوښتنه وه چې دهندوستانی مسلمانانو دملي غوښتنې په توګه راپورته کړې ده . زه دا احساسوم چې دابه دمسلمانانودهغو ستونزو په وړاندې چې ورسره مخامخ دي دحل لاره نه وي. ربښتا خبره په دغه برخه کې داده چې دا به دلازیاتو مسایلو د رامنځ ته کیدو پیل او پوله وي .
سپیڅلي پیغامبرویلي دي : « خدای داټوله ځمکه ماته دیوه جومات په شان جوړه کړې ده. » اوس ماته مه وایه چې باید د جومات دتجزیي د نظر او ایدیې ملاتړوکړم . که چیرې دغه نهه کروړه مسلمانان په ټول هند کې سره خواره شوي وای ، او داغوښتنه هم ورسره وای چې غواړي په یوه یا دو سیموکې خپل اکثریت هم ثابت کړي ، دغه غوښتنه دتفاهم او منلو وړ ده ،خو هغه شان غوښتنه به کله هم داسلامی لید له نظره سمه ونه بلل شي ، پرته له دې چې په اداري لحاظ یوه توجیه ورته پیداکړه شي . کوم حالت لکه څنګه چې اوس روان دی ، هغه په پیاوړې توګه له لویو توپیرونو سره مل دی ، هند په خپل چم ګاونډ کې له اکثریت مسلمانانوسره ګډې پولې لري . په دغه حال کې ته ماته ووایه ،چې څوک کولای شي دغه نفوس دلته له منځه یوسي ؟ دپاکستان د غوښتنې پرلامل مورړ کولای شو خپلې سترګې له وروستي زرکلن تاریخ څخه واړوو . که زه چیرې د لیګ ترمینالوژي کاروم ، یوازې په دغه کارسره مورړ تر (۳۰) ملیونه زیات مسلمانان د « هندو راج » کړۍ ته په لوی لاس وراچوو . دهندو او مسلمان ستونزه چې د کانګرس او لیګ دخپل منځي شخړې په ترځ کې رامنځ ته شوې ، دا به هغه ستونزه وي چې ددواړو حکومتونو ترمنځ به د نړیوالو ځواکونو په مرسته اوتحریک دپاریدنې لابشپړې پوړۍ ته رسیږي ، داسې چې په راتلونکې کې به یې پوله ترجګړاو ټکر پورې هم وغزیږي .
زیات وختونه دا پوښتنه راپورته کیږي چې د پاکستان ایده دمسلمانانولپاره تل دیو شخړبیز خطرپه توګه مطرح ده ، په داسې حال کې چې کټ مټ خبره بیا ولې د هندوانو په وړاندې نه مطرح کیږي ؟ زه خو داسې احساس کوم چې ددغې غوښتنې په وړاندې مخالفت له دوو اړخو رامنځ ته کیږي ، یوه خوا دهغوی استازیتوب کوي چې هغو ی په ربښتیاینې سره دا اندیښنه لري چې دلته امپریالستي توطیه په مخکې ده ، دوی په پیاوړې توګه په دې اند دي چې یو متحد او آزاد هندوستان هغه د دوی په نظر هغه مقام دی چې کولای شي له ځانه دفاع وکړي . خو په بله خوا کې یوه ډله ده چې هغوی هم له خپل پارونکي هدف اونظرسره د پاکستان خلاف دي ، هغوی فکرکوي چې که دا کارترسره شي ، دابیاهم دمسلمانانو دپیاوړتیا لامل کیږي او پایله به یې بیا پردوی باندې یرغل وي. مسلمانان په هراړخیزه توګه دا حق لري چې دقانون ترسیورې لاندې خپله خوندي ساتنه په پام کې ولري ، خو دهندوستان تجزیه به کله هم د دوی ګټوته پیاوړتیا ورونه بښي . ځکه چې داسې غوښتنه د قومی شخړو په برخه کې یو ناسم سیاسي حل دی .
راتلونکې هندوستان به د طبقې له ستونزې سره مخامخ وي ، نه له قومی شخړو او ستونزو سره ، لوی توپیربه د پانګوال او کارګر ترمنځ و ي ، کمونست او سوسیالست غورځنګونه د ودې په حال کې دي او دا ممکنه نه ده چې پرهغوی باندې سترګې پټې کړو . دغه غورځنګونه به په زیاتیدونکې او هراړخیزه توګه د کښتنۍ طبقې د ګټو په خاطر خپل جګړه پرمخ بیایی .
مسلمان پانګوال او ځمکه وال پاټکي په بشپړه توګه ددغه خطر له منګولو خلاصیدای نه شي ، دوی اوس دغه ټکي ته قومی رنګ ورکوي او اقتصادی موضوع په مذهبي شخړه باندې اړوي . خو دابايد ووایو چې ددغې موضوع مسوولیت یوازې پرمسلمانانو پورې نه دی تړلې ، ځکه دغه ستراتیژي لومړی د انګریزي حکومت له خوا تر لاس لاندې ونیول شوه او بیا د علیګړ دسیاسی افکارو له خوا دتایید ټاپه پرې ولګیده . وروسته بیا هندو تنګ نظرو له هغې ناوړه معضله جوړه کړه چې داده اوس یې آزادی دهندوستان دتجزیی په بیه تمامه کړه .
جناح په خپله د هندو- مسلم دیوالي سفیرو ، د کانګرس په یوه غونډه کې سروجني نایدو دغه ستاینوم (لقب) ورته وکاراوه . دی د ( داد بایی ناروجی ) له پیروانو څخه و، په ۱۹۰۶ کال یې دمسلمانانو په غونډه کې له ګډون څخه ډډه وکړه ، دهغې غونډې چې په هندوستان کې یې دقومي سیاست بنسټ کیښود. په ۱۹۱۹ کال کې هغه په مطلق ډول د یوه نشنلسټ په توګه د انتخابی کمیټې ترجوړیدو دمخه د مسلمانانو دغوښتنو پرخلاف ودرید.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورړ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ۱۹۲۵ کال د اکتوبر په دریمه یې تا یمز اف اندیا ته دیوه لیک په ترځ کې  هغه وړاندیز چټیات وباله په هغه کې چې ویل شوي وو کانګرس یو هندي جوړښت او ډله دی .  په ۱۹۲۵ او۱۹۲۸ کلونو کې  دی په پیاوړې توګه د ګډ انتخاباتي سستم  له لیوالو څخه و.  کله یې چې په ۱۹۲۵کال کې په ملی اسامبلې کې خبرې کولې ، ده وویل : « زه لومړنی او  وروستني نشنلست یم »  او خپلو همکارانو ته یې نصحت کاوه چې  دوی باید هندو  وي یا مسلمان ، « نه داچې  په غونډه کې قومي موضوعات راپورته  کړي ، دوی باید اسامبلې ته دیوه ملي جوړښت  دفکر له هنداري وګوري .»

په  ۱۹۲۸  کال کې  جناح  دکانګرس ملاتړ وکړ او  غږیې پرې وکړ چې له  (سیمون کمیشن ) سره  پریکړون (بایکات) وکړي .  تر  ۱۹۳۷ کال پورې ، دی دهندوستان دتجزیې پلوی نه و.  د زده کونکو بیلابیلو ټولنو ته  هغه په خپل پیغام کې پردغه ټکي ټینګار کاوه چې باید دهندو مسلم د یووالي په لاره کې هڅې وکړي. ده پرهغه مهال د خواشیني احساس وکړ چې کنګرس په اوو ایالاتو حکومتو جوړکړل او مسلم لیګ ته یې اهمیت ورنه کړ.  په ۱۹۴۰ کال کې یې دا تصمیم ونیو چې دتجزیې غوښتنه پرمخ بوځي  او د مسلمان سیاسي  ماتې په فکرکې شي.
په لنډه توګه ،   بایدووایم چې د پاکستان لپاره غوښتنه دده خپله ځاني سیاسي تجربه ده ، ښاغلي جناح په هرلحاظ زما په باره کې دخپل نظر حق لري ، خو زه  دده په ځیرکی اوهوښیاریَ کې  هیڅ شک نه لرم.  دیو سیاست وال په توګه ، ده  دمسلمانانو دفرقه یي او دپاکستان دغوښتنې په برخه کې له حده زیات کارکړی دی. ځکه نو اوس دغه کار په خپل ذات کې دده د پرستیژ په برخه کې دیوه مشکل په توګه را څرګند شوی  چې نه شي کولای له هغه څخه ځان په هرقیمت چې وي  خلاص کړي.
**پوښتنه :**   داثابته ده چې مسلمانان  د پاکستان له غوښتنې تیریدونکي نه دي  . دوی ولې  په دغه برخه کې له هرډول لامل او استدلال څخه  انکارکوي ؟
**ځواب :**  دا ډیره ګرانه ده ، ان چې ناشونې ده ، چې ددغې ناوړې لیوالتیا دشورماشور په وړاندې وجنګیږو ، دیوچا د روحیې ماتول  دهغه ترمړینې بد اغیز لري ، نن سبا مسلمانان  حرکت نه کوي ، بلکه ښوېږي ، ستونزه دلته ده چې د مسلمانان دبا ثباته  حرکت کولو په چل  نه پوهیږي ، دوی یا منډ ې وهي او یا هم ړ نګ وبنګ خوځښت کوي . کله چې د خلکو یوه ډله خپل ډاډ او پرتم له لاسه ورکوي.  دوی بیا ځانونه په خیال پلونو ، شکونو او خطرونو کې دومره ډبوي چې په پایله کې بیا د سم او ناسم  حق اوناحق ترمنځ توپیرکول هم له لاسه ورکوي .
د ژوند رښتینې مانا تفاهم  ده ، نه تش په نامه پیاوړتیا ، بشپړباور دی  اوصادقانه عمل . بریتانوی سیاست  د ډار او بی باوری زیات تخمونه  دمسلمانانو دفکر پرکرونده باندې کرلي دي.  اوس دوی د یو ه دردونکي حکومت په منګولو کې دي ،د انګریزانو په تګ افسوس کوي ،  مخکې تردې چې باندني ښاغلي یې له هیواده ووځی دوی بیا دبیلتانه اوتجزیې غوښتنه کوي.  آیا دوی په دی باورلري چې تجزیه او بلتون به  د دوی پر سراو مال د تیری مخنیوی وکړای شي ؟  که چیرې دغه خطرونه رښتیانی وي ، په دی کې شک نشته چې  پایله به یې داسې  یو وسله وال کړکیچ وي چې په هراړخیزه توګه به له لویو مالي او ځاني زیانو سره ملګرې وي.
**پوښتنه :**  هندو ان او مسلمانان خو  دوی بیلې ټولنې دي چې هره یوه یې ځانګړی احساسات او جذبات لري . څنګه کیدای شي چې  د دوی یوالی او اتحاد  به د دوی دواړو ترمنځ یوه بریا وي ؟
**ځواب :**  دایو زوړ او له موده لویدلی بحث دی ، ما  په دغه اړه دعلامه اقبال او مولانا حسین احمد مدني ترمنځ یوه مکاتبه لیدلې ده .  په قرآن کې د قوم اصطلاح یوازې د هم باوره ټولنې لپاره نه ده کارول شوې ، بلکه هلته دغه نومونه په عامه توګه د بیلابیلو انساني ډلو لپاره هم یاده اوهم کارول شوې ده  ، اوس څنګه موږ داهیله درلودای شو چې ددغه بحث په ایتمولوژیکه بڼه لکه  ملت ، قوم ، امت په یادونه سره به  په بریا ور واوړو ؟  له مذهبي پلوه هندوستان د ډیرو خلکو لکه هندوانو ، مسلمانانو ، عیسویانو، فارسیانو ،سکانو او نورو کوردی .
دهدف له مخې هم د هندو اواسلام  مذهبو  ترمنځ لوی توپیر شته دی . خو دغو توپیرونو ته باید اجازه ورنه کړه شي  چې  دهندوستان دخپلواکي دبریاوو په وړاندې خوک  ددغو دوو بیلو عقیدوی سستمونو  د اتحاد او یووالي په نامه خپله اجندا او طرحه پرمخ بوځي .ځکه  دلته موضوع زموږ ملي خپلواکي ده  چې  څنګه کو لای شو هغه خوندي وساتو. آزادي دهربشري موجود لپاره یو نعمت او حق ده  چې باید دمذهب پربنسټ ونه ویشله شي.
مسلمانان باید په دې پوه شي ، چې دوی دکایناتی پیغام لیږدونکي دي . دوی له دغه تعصبه خالي دي چې د دوی قلمرو ته نور نه شی ور ننوتی . داخبره باید په رټه توګه وکړو چې ، مسلمانان په هند کې یوازې یوه ټولنه  یا یوه کمونیتی نه ده ، دوی په ډیرنورو او نه بدلید دونکو ډلو او پاټکو باندې ویشل شوي دي. تاسو کولای شئ چې هغوی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریَ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د هندو ضد احساساتو پربنا يوالي ته راوهڅوئ ، خو تاسو نه شئ کولای چي هغو د اسلام په نامه سره يوموټی کړئ ، ځکه چي هغوی کله هم خپل قوم اوخپلي ډلي ته له وفاداری نه سرغړونه کولای شي او نه هم دهغوي پرضد کاريدای شي . په دغه ډله کي وهابيان ، سنی او شعيه او نوري بی شميره ډلی دي چي دوی دبيلابيلو صوفيانو او روحانيونو تراغيز لاندي دي. وړي وړي خبرو لکه دلمانځه په ترڅ کي دلاسو پورته کول ، او يا په زوره د امين ويلو په شان نوري يوعالم شخړي دي چي حل يي د دوی په وړاندي له ګوابنونو او خندونه سره مل دی . علماوو تل له تکفيرڅخه ديوې وسيلی په توګه په آزاده توګه کاراخيستی دی. پخوا به دوی اسلام پرنامسلمانو باندي مانه ، خو اوس دوی اسلام له مسلمانوڅخه اخلي . داسلام تاريخ په دغو بيلګو ډک دی چي څنګه په ښو او پرهيزګارو مسلمانانو باندي دکفرټاپه لګول شوي ده . پيغامبرپه خپل وخت کي يوازې خپله دا څواکمني درلوده ، چي په داسي باورنه کيدونکو حالاتو او کړو وړو کي ځان خوندي وساتي. ان چي دوی يي دوخت په تيريدو سره دناروغيو او محاکمو منګولو ته هم ورحواله کړي دي. رښتيا په دغه ترڅ کي داده چي هرکله دليل او منطق له لاسه وځي ، کړه وړه هم خپله اصلي بڼه له لاسه ورکوي ، په دغه حالت بيا د ريفورمستانو او سمون غوښتونکو چاره او کړه وړه له لوی زيان سره مخامخ کيږي.

خو نن حالت تربل هروخت ډيربد شوی دی، مسلمانان ټول د خپل فرقه ايي والي په چوکات سره را ښکيل دي . دوی ترمذهب سياست ته اهميت ورکوي او دوی خپلي دنيايي غوښتني دمذهبي لارښونواو ارشاداتو په توګه پرمخ بيايي ، تاريخ ددغوحقايقو شاهد دی چي موږ په هرعصرکي پرهغوی باندي خندلي دي چي ښه اونيک يي په بشپړتينګار او تحقيرسره ځارلي ، هغوی چي په دغه برخه کي دخپل وخت له روښانه مشالونو څخه وو ، دوی ځانونه دغي قربانی ته وقف کړي وو چي دنفسي لوړتيا بيرغونه ترخپل کنترول لاندي را ولي . موږ بايد څه ووايو چي څوک يو ، عادي وګړي يو ، موږ بايد دا ومنو چي ان لوړ پوړي پيغامبرانو هم ددغو دوويزو يندېزونو اوښکيلونو له ستونزو پريوه خوا نه دي پاتي شوي .

**پوښتنه :** تاسو خپله خپرونه الهلال اوږده موده دمخه بنده کړه ، دغه کارمو له دی امله و چي تاسو له مسلمانانو ، له هغوی چي د روښانتيايي چلند پرمخ يي د خاوروختو بندونه جوړول خواښيني وئ او يادلچي تا سو داسي احساس کاوه لکه چي دبارين (barren) په بيابان کي په آذان لګياياست ؟

**ځواب :** ما الهلال له دی امله چي ما دهغه پرحقانيت باندي خپل باور له لاسه ورکړی وي ، نه دی ترلي ، دغه اخبار دمسلمانانو ديراخو ډلو په منځ کي د دوی د پوهي او تنوير په برخه کي لويه برخه واخيسته ، دوی پراسلام ا نسانی آزادی باندي پرخپل باور بيا کتنه وکړه اوپه پرله پسي توګه يي د هغه په رڼاکي د رښتينو موخو پرلور خپله تګلاره ور وايستله . په حقيقت کي زما دغي تجربی زما پرخپل ژوند هم ژور اغيز وکړ ، هغه يي را بدای کړ او دهغوی په شان مي احساس وکړ ، دچا چي د خدای د استازي ترلارښوني لاندي يي د زده کړي اوپوهي امتياز په برخه شوي وي.

زه خپل غږ هغه ته ور دننه کړم او دهغه تر اغيزلاندي يي لکه عنقا دا سي راوځوښولم ، الهلال دخپلو موخو لپاره په زړه پوري خدمت وکړ او ديوه نوي لمرڅرک دوريي پيل کړ. زما دتجربی پربنسټ ، ما پرخپل حالت بيا کتنه وکړه او پريکړه دا وه چي ما خپل ټول وخت اوتوان زموږ دخپلي ملي خپلواکی دبريا لپاره ونده کړ. زه په خپله دغه عقيده باوری وم چي د آسيا او افريقا خپلواکی په لويه کچه د هندوستان له خپلواکی سره اړيکی لري، ځکه نواوس هم په دغه باوريم چي د هندو اومسلمان يو والي د هندوستان دخپلواکی کلي ده .

ان چي ترلومړی نړيوالي جګړه دمخه ، زه پردي باوري وم چي هندوستان دخپلواکی لپاره مصمم او ژمن دی ، هيڅ ځواک او هيڅ هيواد نه شي کولای چي له دغه اصله انکاروکړي ، زه په خپل فکرکي د مسلمانانو پر ونډه باندي هم باوري وم . ما دزړه له کومي هيله درلوده چي مسلمانان بايد له خپلو هيواد والو سره يو ځای حرکت وکړي او دا فرصت بايد تاريخ ته ورنه کړي چي ووايي ، کله چي هندوستان دخپلي آزادی لپاره جګړه کوله مسلمانان پرهغه مهال يوازې کتونکي وو . پريږدئ چي څوک دا ونه وايی چي د جګړې له څپوسره د مبارزې پرمهال دوی دساحل پرغاړه ولاړ وو اوهغوبيريو ته موسکي وو، چي دآزادی جنګيالي يي ليږدول.

پای

له Covert مجلي څخه په مننې

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ